## ۱.د ایشیا فونډېشن د ۲۰۰۹ کال سروی، د راپور لنډیز او مهمې موندنې

### 1.1 مهمې موندنې:

● په 2009 میلادي کال کې ۴۲ فیصده ځواب ورکوونکي وايي چې هېواد په سم جهت روان ده. دا رقم د ۲۰۰۸ کال رقم څخه چې ۳۸ فیصده وو، لوړ ده. همداراز ۲۹ فیصده ځواب ورکوونکي نظر ۲۰۰۸ کال ته چې فیصدي يې ۳۲ وه، احساس کوي چې هېواد د یو غلط جهت په لور روان ده چې داکار دې ته اشاره کوي چې د حکومت څخه د خلکو د خوښۍ په کچه باندې چې لیدل کېږي د ۲۰۰۶ کال راهیسې مخ په کمېدو ده، غور او مداقه وشي.

● د خوشبینۍ او یا خوښۍ عمده دلیل امنیت ده چې د ډېر شمېر ځواب ورکوونکو لخوا هر کال ذکرکېږي چې فیصدي يې د ۳۱ فیصده څخه چې په ۲۰۰۶ کې وه تر ۴۴ فیصده په ۲۰۰۹ کال کې لوړېږي.په ۲۰۰۹ کال کې ډېر شمېر ځواب ورکوونکي نسبت نورو کلونوته د خوشبینۍ او خوښۍ عمده دلیل بیارغونه(٪۳۶) او د نجونو پرمخ د ښوونځیو پرانیستل(٪۲۱) ذکر کړي دي.

● د امنیت نشتوالی چې د ځواب ورکوونکو ۴۲ فیصده يې ذکر کوي د ناخوښۍ او بدبینۍ لپاره عمده دلیل ګڼل کېږي. که څه هم د هغو ځواب ورکوونکو تناسب چې د امنیت په نشتوالي يې ټینګار کولو په ۲۰۰۹ کال کې راټیټ شوی ده چې په دې فکتور باندې په ۲۰۰۸ کال کې ۵۰ فیصده ځواب ورکوونکو ټینګار کاوه.

● د امنیت نشتوالی( د بریدونو، خشونت او ترهګرۍ په شمول) د لویې ستونزې په توګه په افغانستان کې د ځواب ورکوونکو(٪۳۶) د دريېمې برخې څخه زیات يې په ګوته کوي چې په خاصه توګه جنوب ختیځ(٪۴۸)، لوېدیځ (٪۴۴) او په جنوب لوېدیځ کې (٪۴۱) لیدل کېږي. مګر د نورو موضوعاتو په اړه لکه بې وزګاري(٪۳۵)، ټیټ اقتصاد(٪۲۰)، اداري فساد(٪۱۷)، فقر(٪۱۱) او تعلیم او تربیه(٪۱۱)چې په ۲۰۰۹ کې نظر ۲۰۰۸ کال ته يې زیاتوالی موندلی ده، اندیښنه موجوده ده.

● د ځواب ورکوونکو لږڅه لوړشمېر په خپلو محلي سیموکې په ۲۰۰۹(٪۶۴) کال کې نظر ۲۰۰۸ (٪۶۲)کال ته امنیتي وضعیت مثبت ارزوي. با وجود دې د هېواد په ټولو برخوکې د ښه والي او بهبودۍ رپوټونه ورکول شوي دي. دا باید په پام کې ونیول شي چې د سروې د څېړونکو په تګ او راتګ کې نظر نوروکلونوته په ۲۰۰۹ کال کې زیات محدودیتونه د امنیتي او نورو دلایلو پر اساس وجود لرل( ۲ ضمیمې ته مراجعه وکړۍ: د جزیاتو لپاره میتودولوجی)

● یوازې د ځواب ورکوونکو دنیمايي څخه لږ زیات شمېر(٪۵۱) وايي چې دوی د خپل امنیت په اړه په خپلو سیموکې وېره لري.مګر د ځواب ورکوونکو لوړ تناسب دهېواد په جنوب ختیځ(٪۶۵)، جنوب لوېدیځ(٪۶۲)

او لوېديځ(۶۲٪) کې نظر نورو سيمو ته رپوټ ورته کوي چې دوی د خپل امنيت په اړه وېره لري. د ۲۰۰۸ کال څخه را پدېخوا ځواب ورکوونکو په دې سيموکې د جرمونو د پيښېدو زياتوالی تجربه کړی ده.

● ۱۷ فيصده ځواب ورکوونکي رپوټ ورکوي چې په تېر کال کې دوی او يا د دوی د کورنۍ غړی د خشونت يا جرمونو قرباني شوی دی. د دې قربانيانو تقريباً په هرلس کسانوکې يو کس بې د ملېشه او ياغيانو(۹٪) يا بهرنيو ځواکونو(۹٪) د علمياتو په سبب قرباني شوې دي. د نظامي عملياتو له کبله د قربانيانو شمېر د ۲۰۰۷ کال راهيسې مخ په زياتېدو ده. هغه خشونت چې د نظاميانو/ياغيانو د عملياتو له کبله رامنځ ته شوی زيات شمېر بې په مرکزی/هزاره جات(۲۴٪)، لوېديځ(۱۷٪)، مرکزي کابل(۱۱٪)، جنوب ختيځ(۹٪) او په جنوب لوېديځ (۸٪) کې رپوټ ورکړل شوی ده. په داسې حال کې چې هغه خشونت چې د بهرنۍ ځواکونو د عملياتو په ترڅ کې را منځ ته شوی په عمومي توګه په جنوب لوېديځ(۲۲٪)، جنوب ختيځ(۱۱٪) او ختيځ(۱۰٪) کې رپوټ ورکړل شوی ده.
● د ځواب ورکوونکو هغه شمېرچې وېره لري ترڅو په ملي ټاکنو کې ګډون وکړي په مهمه توګه د ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کلونو ترمنځ زيات شوی ده( د ۴۵٪ څخه تر۵۱٪ پورې). اوس دا وضعيت د ځواب ورکوونکولپاره دهېواد په جنوب لوېديځُ(۷۹٪)جنوب ختيځ(۶۸٪)، لوېديځ(۶۱٪) او ختيځ(۵۶٪) کې صدق کوي.

● په ۲۰۰۹ کال کې افغانان نظر پخوا کلونوته خپل اقتصادي وضعيت مثبت ارزوي که څه هم چې دا برې په مساوي توګه نه شريک کېږي. په زياته اندازه ښاري ځواب ورکوونکي (۶۳٪) نظر محلي ځواب ورکوونکوته(۵۲٪) وايي چې د هغوی اقتصادي وضعيت نظر د طالبانو وخت ته ډېرښه شوی ده.
● بې روزګاري ښکاري چې تر ټولو لويه ستونزه وي هم په ملي کچه(۳۵٪) او هم په محلي کچه(۲۶٪). نورعمده ستونزې په محلي کچه زيربنايي او نورو چوپړتياو پورې اړوندې دي لکه برېښنا(۲۶٪)، سړکونه(۲۴٪)، اوبه(۲۲٪) او همداراز د تيرو کلونو په څېر د روغتيايي خدمتونو/کلينيکونو/ روغتنونو(۲۰٪) نشتوالی.

● د محلي مطبوعيت او چوپړتياو په لحاظ ځواب ورکوونکي د ماشومانو لپاره د تعليم او تربېې د موجوديت(۶۷٪) د ښښلو اوبو (۶۳٪)، آبياری (۵۳٪) او د کلينيکونو او روغتونو لپاره(۴۹٪) رضايت او خوښي څرګنده کړې ده.
● د ځواب ورکوونکو تقريبا دوه دربېمه برخه(۶۵٪) وايي چې د برېښنا برابرونه د هغوی په سيموکې په بد حالت کې ده او د ځواب ورکوونکو دربېمه برخه(۳۳٪) وايي چې هغوی هيڅ ډول برېښنا ته لاس رسی نلري.چې دا کچه نظر تېرو کلونوته په زياته اندازه ټيټه ده.

• د ملي حکومت د اجراآتو ارزونې د ٪۶۷ څخه چې په ۲۰۰۸ کې وې ٪۷۱ ته په ۲۰۰۹ کال کې لوړې تللي دي. د اوسني حکومت عمده لاسته راوړنې بیارغونه(٪۳۲)، د سولې او امنیت راوستل(٪۲۷) او د تعلیم او تربیې ښه سیستم(٪۲۶) څخه عبارت دي. دحکومت ترټولو عمده ذکرشوې ناکامۍ د امنیت نشتوالی(٪۳۱)، اداري فساد(٪۲۹)، د دندې د فرصتونو نشتوالی(٪۲۰)، ضعیف اقتصاد(٪۱۵) او ضعیف حکومت(٪۱۳) څخه عبارت دي

• د ځواب ورکوونکو اکثریت(٪۷۱) د امنیتي وضعیت د ښه کېدو لپاره دحکومت د وسلوالو مخالفینو سره د مذاکرې او مصالحې لپاره د حکومت د هڅو ملاتړ کوي. د دې طریقې لپاره د ملاتړ لوړه کچه امکان لري په دې خاطر لوړه وي چې چې د ځواب ورکوونکواکثریت(٪۵۶) وایي چې هغوی د وسلوالو مخالفینو سره څه ناڅه خواخوږي لري او هغوی غواړي چې مخالفین وهڅوي چې ترڅو حکومت سره یوځای شي.

• په استازی کوونکو اداراتو او محلي موضوعاتو ته د هغوی د حساب ورکونې په برخه کې د ځواب ورکوونکو اعتماد او باور نسبتا په لوړه کچه ده. ٪۶۸ ځواب ورکوونکي وایي چې پارلمان د افغانستان د خلکو لوېې ستونزوته رسیدګي کوي او ٪۵۸ ځواب ورکوونکي وایي چې دهغوی د پارلمان غړی د هغوی د انتخاباتي حوزې عمده ستونزوته په پارلمان کې رسیدګي کوي. په دې ارتباط د پارلمان د غړو د کړنو په برخه کې په ۲۰۰۹ کال کې نظر ۲۰۰۸ کال ته ښه والی منځ ته راغلی ده.

• په محلي کچه ځواب ورکوونکي د ولایتي شوراګانو اجراآت ٪۷۵ مثبت، د ولسوالیو اجراآت ٪۶۹ مثبت او ښاروالیو اجراآت ٪۵۸ مثبت ارزوي. مګر په ۲۰۰۹ کال کې د ښاروالیو د اجراآتو څخه د رضایت کچه لوړه شوې ده او ولایتي شوراګانو او د ولسوالۍ د چارواکو څخه د رضایت کچه په خپل حالت باقي پاتې ده.

• په ۲۰۰۹ کال کې د ځواب ورکوونکو لوړه کچه نظر تېرو کلونوته آزادي(٪۵۰) او سوله(٪۴۱) ترټولو لوړې شخصي ګټې د دیموکراسۍ څخه ذکر کړې دي. سرکال ځواب ورکوونکي ډېر اهمیت اساسي ډیموکراتیک ارزښتونوته لکه حقوق او قانون(٪۲۴)، د ښځو حقوق(٪۲۱)، دخلکو حکومتدارۍ(٪۱۹)او اسلامي دیموکراسي(٪۲۳) ته ډېر اهمیت ورکوي.مګرهغوی د هغې دیموکراسۍ په امکانیت باندې چې ډېرې ګټې لکه لږ اداري فساد(٪۱۷) او یا سعادت(٪۱۵) له ځانه سره ولري، لږ اعتماد څرګندوي.

• د ځواب ورکونو هغه شمېر چې وایي دیموکراسي د حکومتدارۍ بهترین شکل ده دهغوی فیصدي ۸۴ فیصدو څخه چې په ۲۰۰۶ کال کې وه ۷۸ فیصدوته په ۲۰۰۹ کال کې راټیته شوې ده مګر د ۲۰۰۸ کال

راهیسې په افغانستان کې د ډیموکراسۍ د پیاده کولو د طریقې څخه د رضایت په کچه کې کوم بدلون نه لیدل کېږي(٪۶۸)

● د مساوي حقونو د اصل سره موافقت د وخت په تېرېدو سره کمېږي چې دا موافقت په ۲۰۰۶ او ۲۰۰۷ کال کې د ۹۰ فیصدو څخه په ۲۰۰۸ کال کې ۸۴ فیصدو ته او په ۲۰۰۹ کال کې ۸۰ فیصدوته راکوزه شوه. چې همداراز د داخبره د سیاسي سوله ییز مخالفت په اړه هم صدق کوي چې فیصدي یې د ۸۴ فیصدو څخه چې په ۲۰۰۶ کال کې وه ۷۷فیصدوته په ۲۰۰۹ کال کې راټیټه شوه.د افرادو ترمنځ په سیاسي تابعیتونوکې د توپیرونو د منلو کچه راکوزه شوې ده چې فیصدي یې د ۵۴ فیصدو څخه چې په ۲۰۰۶ کال کې وه ۴۴ فیصدوته په ۲۰۰۹ کال کې راکوزه شوې ده.

● په ۲۰۰۹ کال کې د ټاکنو په پروسه باندې یو خاص بیا تجدید شوی اعتبار او اعتماد لیدل کېږي. ۷۰ فیصده ځواب ورکوونکي وایی چې دوی باور لري چې رایه ورکونه د بهبودۍ لامل ګرځی چې د دوه تېرو کلونو ښه شوی ده. د هغو ځواب ورکوونکو شمېر چې وایی هغوی تر یو څه اندازې پورې د حکومت په تصمیم نیونو کې اغېزه لري، د ۳۶ فیصدو څخه چې په ۲۰۰۶ کال کې وو ۴۲ فیصدوته په ۲۰۰۹ کال کې لوړ شوی ده.

● همداراز په ۲۰۰۹ کال کې یو شمېر انتخاباتي نهادونو پورې اړوندو ادارو باندې لکه د ټاکنو مستقل کمېسیون(د ٪۵۸ څخه چې په ۲۰۰۸ کال کې وه ٪۶۷ فیصدوته په ۲۰۰۹ کال کې) او په سیاسي ګوندونو(۴۷ فیصده ده چې د ۲۰۰۶ کال راهیسې ترټولو لوړ رقم ثبت شوی ده) باندې د اعتماد کچه لوړه شوې ده

● دا سروې د ۲۰۰۹ کال د جون په میاشت کې ترسره شوه چې دجمهوري ریاست او ولایتي شوراګانو انتخابات ټاکل شوي وو چې د جون په میاشت کې ترسره شي.د ټاکنو څخه دوه میاشتې مخکې ٪۸۲ ځواب ورکوونکي د ټاکنو په اړه خبر ول او ۷۷ فیصده ځواب ورکوونکو د رایې ورکولو لپاره نومونه ثبت کړي وو. د نارینه و نوم لیکنه(٪۸۵) نظر د ښځو نوم لیکنو(٪۶۹) ته لوړه وه. هغو کسانو چې د ټاکنوکارتونه یې نه و اخیستي د هغوی درې ُربعې(٪۷۳) نه پوهېدل چې چیرته د ټاکنو کارتونه تر لاسه کړي.

● ٪۷۳ هغو کسانو چې د ټاکنو کارتونه یې اخیستي وو ویل یې چې احتمال لري چې رایه ورکړي پشمول ٪۴۸ هغو کسانو چې ویل یې ډېر احتمال لري چې په ټاکنو کې خپله رایه استعمال کړي. مګر د ملاحظې وړ شمېر(٪۳۵) کسانو په جنوب کې، ۲۷ فیصده کسانو په مرکزي کابل کې او ٪۲۵ کسانو په لوېدیځ کې ویل چې احتمال نلري چې په ټاکنو کې ګډون وکړي او خپله رایه استعمال کړي. هغو ځواب ورکوونکو چې ویل یې علاقه نلري چې په ټاکنو کې ګډون وکړي د هغوی تناسب په ۲۰۰۹ کال کې په چټکه توګه لوړ شو او د ۲۰۰۴ کال راهیسې حتی دوه برابره شوی ده(د ۱۲ فیصدو څخه ۱۶ فیصدو ته په ۲۰۰۵ کال کې او د ۱۸ فیصدو څخه په ۲۰۰۸ کې ۲۶ فیصدوته په ۲۰۰۹ کال کې دهغوی تناسب لوړشو)

● د ځواب ورکوونکو ۶۴ فیصدو ویل چې راتلونکې ټاکنې به آزاده او مناسبې وي. ځینو به ویل چې یو شمېر ستونزې به په ټاکنو کې موجودې وي لکه د رایو په شمیرلو کې درغلي(٪۳۹) او د رایو اخیستل(٪۳۳). یواځې ډېر کم شمېر ځواب ورکوونکو(٪۸) به د رایه ورکوونکو او یا د ګوندونو د فعالینو پرخلاف د وېرې ذکر کولو. د آزاده او مناسبو ټاکنو لپاره د شک او تردیدونو فیصدي لوړه وه چې په جنوب لوېدیځ کې ٪۳۷ په جنوب ختیځ کې ٪۲۹، مرکز/کابل کې ٪۲۵ او په لوېدیځو سیموکې ۲۳ فیصده وو.

● د بیان د آزادۍ په اړه نظرونه وېشل شوي دي. ۴۰ فیصده ځواب ورکوونکي وایي چې دوي په آزاده توګه خپل نظرونه بیانولی شي اما تقریبا مساوي شمېر(٪۳۹) ځواب ورکوونکي وایي چې دوی نشي کولای خپل نظرونه په آزاده توګه څرګند کړي. هغه ځواب ورکوونکي کوم چې وایي چې دا د حکومت لپاره د منلو وړنده چې څوک دې د حکومت په خلاف منفي خبرې وکړي دهغوی تناسب د ۶۹ فیصدو څخه چې په ۲۰۰۷ کې وو ۶۱ فیصدوته په ۲۰۰۹ کال کې رالوېدلی ده. هغه ځواب ورکوونکي چې دامنیت خرابوالی د بیان د آزادۍ پر وړاندې خنډ ګڼي دهغوی تناسب په ۲۰۰۹ کال کې نظر تېروکلونوته ټیټ ده چې ٪۲۹ ته رسېږي( د نوموړو ځواب ورکوونکو تناسب په ۲۰۰۶ کال کې ٪۴۰، په ۲۰۰۷ کالې ٪۳۶ او په ۲۰۰۸ کال کې ٪۳۸ وو) باوجود ددې هغو ځواب ورکوونکو چې ویل بې د طالبانو لخوا ورته خطر متوجه دی د هغوی تناسب کې د ۲۰۰۸ کال په پرتله چې فیصدي بې ۱۸ وه زیاتوالی راغلی ده چې ٪۲۱ ته بې فیصدي لوړه شوې ده.

● د حکومت په تصمیم نیونو او د محلي ستونزو په حل کولوکې د مذهبي مشرانو سره د مشورې د ترسره کولو لپاره ملاتړ په لوړه کچه کې قرارلري چې د ملاتړ لوړې کچې د هېواد په ختیځ کې(٪۸۲)او په جنوب لوېدیځ کې(٪۷۲) موجودې دي.

● د تېروکلونو په شان زده کړه او بې سوادي(٪۴۹) دهغو عمده ستونزو له ډلې څخه دي چې ښځې په افغانستان کې ورسره مخامخ دي. مګر په عین وخت کې هغه ځواب ورکوونکي چې وایي د ښځو لپاره د دندو فرصتونو نشتون د یوې مهمې موضوع په توګه ګڼل کېږي دهغوی تناسب د ۲ فیصدو څخه ۱۹ فیصدوته په ۲۰۰۷ کال کې او د ۲۴ فیصدو څخه په ۲۰۰۸ کال کې ۲۸ فیصدوته په ۲۰۰۹ کال کې لوړ شوی ده.

● د جندر د مساوات لپاره ذکر شوی ملاتړ په لوړه کچه باقي پاتې دی پشمول د ښځو لپاره د زده کړې فرصتونه(٪۸۷) او په ټاکنو کې د ښځو د رایې ورکولو حق(٪۸۳). هغه ځواب ورکوونکي چې وایي ښځوته دې اجازه ورکړل شي چې د کورڅخه بهر کار وکړي د هغوی تناسب په حاشیوي توګه هر کال راټیټېږي چې د ٪۷۱ څخه په چې په ۲۰۰۷ کال کې وو ۶۷ فیصدوته په ۲۰۰۹ کال کې راکوزشوی ده.

● همداراز په ۲۰۰۹ کال کې پایلې ښیي چې په حکومتي اداراتو کې د ښځو د استازیتوب لپاره په ټولو سطحوکې د ملاتړ کچه نظر تیرو کلونوته ډېره راټیټه شوې ده.

● د افغاني کورنیو لپاره په خاصه توګه بیا په کلیو کې راډیو ترټولو زیات د لاس رسۍ وړ رسنۍ په توګه باقي پاتې ده. که څه هم د ۲۰۰۷ کال راهیسې د راډیو درلودونکو او اورېدونکو په شمېر کې یو ثابت کموالی

**راغلی ده.د ځواب ورکوونکو هغه شمېر چې وايي خپل معلومات د ټلوېزيون له لارې ترلاسه کوي زيات شوی ده مګر داکار يواځې ښاري سيمو پورې محدود پاتې دی.**

- **په ۲۰۰۹ کال کې د موبايل ټيلفون درلودونکو په شمېر کې نظر تېرو کلونوته يو ډراماتيک زياتوالی ليدل کېږي. دا په دې معنی ده چې د لومړي ځل لپاره د ځواب ورکوونکو اکثريت(۵۲٪) اوس دې تکنالوژۍ ته لاس رسی لري.**

## 1.2 لنډيز

**په ۲۰۰۹ کال کې ډېر ځواب ورکوونکي وايي چې هېواد د يو سم جهت په لور روان ده او لږ شمېر ځواب ورکوونکي وايي چې نظر ۲۰۰۸ کال ته هېواد د يو ناسم جهت په لوري روان ده او داکار دې ته اشاره کوي چې د حکومت څخه د خلکو د خوښۍ کچه باندې چې ليدل کېږي د ۲۰۰۶ کال راهيسې مخ په کمېدو ده، غور او مداقه وشي.**

**امنيت د افغانانو لپاره يو کليدي اندېښنه ده او يو جدي فکتور ده چې دهغه پواسطه هغوی د هېواد د ترقۍ او د پرمختګ د جهت په اړه قضاوت کوي. په ۲۰۰۹ کال کې د سروې ارقام او معلومات په ډاګه کوي چې د امنيت په برخه کې ځيني پرمختګونه او بهبودۍ رامنځ ته شوي دي او ځواب ورکوونکي د امنيتي وضعيت په اړه نظر پخوا کلونوته مثبت نظرونه لري[1]. ښه امنيت د ډېر شمېر ځواب ورکوونکو لخوا د حکومت څخه د خلکو د خوښۍ او رضايت لپاره عمده دليل ذکر شوی ده. د امنيت نشتوالی د حکومت څخه د خلکو د بدبينۍ او ناخوښۍ لپاره عمده دليل ده که څه هم چې لږ شمېر ځواب ورکوونکو دا دليل په ۲۰۰۹ کال کې نظر ۲۰۰۸ کال ته ذکر کړی ده. د ځواب ورکوونکو لږه اندازه لوړ شمېر په خپلو سيموکې نظر ۲۰۰۸ کال ته امنيتي وضعيت مثبت ارزوي.**

**باوجود د دې هم تراوسه په افغانستان کې ښکاري چې بې امنيتي تر ټولو لويه ستونزه ده چې په خاصه توګه د هېواد په جنوب ختيځ، جنوب لوېديځ او لوېديځ باندې بې اغېزه کړې ده.د ځواب ورکوونکو لوړ شمېر وايي چې ځينې وخت دوی په دې سيموکې د خپل امنيت په اړه وېره لري او دځواب ورکوونکو هغه شمېر چې وايي هغوی ډېرکله د خپل امنيت په اړه ډار او وېره لري د هغوی تناسب د تېرو څلورو کلونو راهيسې په دوامداره توګه مخ په زياتيدو ده.همداراز ځواب ورکوونکو په دې سيموکې د جرمونو او خشونت په پېښنو کې د ۲۰۰۸ کال راهيسې زياتوالی تجربه کړی ده.**

**باوجود دې هم  د ځواب ورکوونکو يو لږ اقليت(۹٪) تجربه کړې ده چې د ملکي وګړو د قربانۍ پېښې د ملېشه و او ياغيانو او يا د بهرنيو ځواکونو د عملياتو څخه منځ ته راځي او د ملکي وګړو د قربانيو شمېر د**

---

[1] په پام کې دې ونيول شي  چې د ۲۰۰۹ کال د سروې څېرونکو نظر پخوا کلونوته سيمو او منطقوته د خپل تګ اوراتګ په برخه کې د امنيتي ستونزو له کبله د ډېرو محدوديتونوسره مخامخ شول. د ۲۰۰۹ کال د سروې لپاره ۱۰۰ هغه منطقې او ځايونه چې انتخاب شوې ول د امنيتي ستونزو له کبله د لاس رسۍ وړ نه وو.

۲۰۰۷ کال څخه را په دې خوا په دوامداره توګه مخ په زیاتېدو ده چې ښيي دا روان جنګونه او نظامي عملیاتونه د افغانستان د خلکو په ژوند باندې د ملاحظې وړ اغېزه لري.دا ډول جنګ پورې اړوند خشونت بیاهم په جنوبي لوېدیځ، جنوبي ختیځ، ختیځ او همداراز په مرکزي/هزاره جات او مرکزي/کابل په سیموکې چې د یاغیانو پرضد د ملېشه و د عملیات په ترڅ کې په لوړه کچه رپوټ ورکول کېږي د خلکو لپاره د اندېښنې مهم ټکی ګرځېدلی ده.
د ځواب ورکوونکو اکثریت) د امنیتي وضعیت د ښه کېدو لپاره دحکومت د وسلوالو مخالفینو سره د مذاکرې او مصالحې لپاره د حکومت د هڅو ملاتړ کوي. د دې هڅو لپاره ممکن په دې خاطر ملاتړ وجود ولري ځکه چې یو لږ شمېر ځواب ورکوونکي وایي چې دوی د حکومت د وسلوالو مخالفینو د هڅولو لپاره خواخوږي لري او غواړي چې وسلوال مخالفین وهڅوي ترڅو دحکومت سره یوځای شي. د قومي ګروپونو ترمنځ په دې اړه ځېنې توپیرونه شته دي مګر دملاحظې وړ سمتي او سیمه ییز توپیرونه وجود لري. دځواب ورکوونکو تقریبا د درې برخوڅخه دوه برخې بې د نوموړو ګروپونو سره یو څه ناڅه خواخوږي لري لکه په جنوب ختیځ او ختیځ سیموکې مګر دا کار د ځواب ورکوونکو د نیمایي شمېر څخه کم لپاره په مرکزي/کابل او مرکزي/هزاره جات سیموکې صدق نکوي.
لاتراوسه هم د خلکو سره د خوش بینۍ او هیلې احساس باقي پاتې دی. د ځواب ورکوونکو اکثریت، توقوع او هیله لري چې امنیتي وضعیت به د هغوی په سیموکې په راتلونکي کال کې ښه شي مګر په هغو سیموکې چې بې امنیتي یو عمده ستونزه ده،ځواب ورکوونکي د راتلونکو پرمختګونو او بهبودیو په اړه ډېر لږ هیله او توقوع لري.
بې امنیتي په عامه فعالیتونوکې د ځواب ورکوونکو په ګډون باندې اغېزه لري. د ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کلونو ترمنځ د هغو ځواب ورکوونکو په شمېر کې چې وېره لري په ټاکنوکې ګډون وکړي په کافي اندازه زیاتوالی منځ ته راغلی ده چې دا خبره اکثریت ځواب ورکوونکو لپاره دهېواد په جنوب لوېدیځ، جنوب ختیځ، ختیځ او لوېدیځ کې صدق کوي چې په د انتخاباتو په دې کال کې په دیموکراتیکه برخه اخیستنې باندې د بې امنیتۍ مهمه اغېزه څرګندوي.
افغانان د دولت په امنیتي چوپړتیاو باندې لوړ اعتماد او باور څرګندوي. د افغان ملي پولیسو او ملي اردو عملیاتي ظرفیت د ۲۰۰۷ کال څخه را پدې خوا مخ په ښه کېدو دی که څه هم دا کار په لازمي ډول د هغوی د اجراآتو څخه د خلکو د رضایت په توګه تفسیرکېدای نشي. په ۲۰۰۹ کال کې نظر نوروکلونوته ډېر لږ شمېر ځواب ورکوونکي وایي چې ملي پولیس د امنیت په ښه کېدو کې مرسته کوي اویا د امنیت په راوستلوکې رېښتیني دي مګر د افغان ملي اردو د اجراآتو ارزونې د پخوا په څېر دي.

په ۲۰۰۹ کال کې افغانان خپل اقتصادي وضعیت نظر تېرو کلونوته مثبت ارزوي باوجود دې هم دا خوشبختي او سعادت په مساوي توګه نه شریک کېږي. د ملاحظې وړ شمېر د ښار اوسېدونکي نظر د کلیو او باندېو

اوسېدونکوته وايي چې د هغوی اقتصادي وضعيت نظر د طالبانو وخت ته ډېر ښه شوی ده.ډېر کم شمېر ځواب ورکوونکي وايي چې د خلکو اقتصاد يوائې د هېواد په جنوب ختيځ او جنوب لوېديځ کې ښه شوی ده.
بياهم په ۲۰۰۹ کال کې د عامه چوپړتياو له لحاظه، ځواب ورکوونکي د ماشومانو لپاره په خاصه توګه د نجونو لپاره د تعليم او تربېې د زمينو د موجوديت په اړه ډېر رضايت او خوښي ځرګندوي. ځواب ورکوونکي وايي چې د تېرکال راهيسې په دې برخه کې ډېر پرمختګونه بې ليدلي دي. دڅښلو د اوبو، آبيارۍ، کلينيکونو او روغتونونو په اړه د رضايت کچه هم نسبتا لوړه پاتې ده.

د سروې موندنې په ۲۰۰۹ کال کې وړانديز کوې د برېښنا په برابرولو او رسولوکې نظر تېرکال ته پرمختګونه ليدل کېږي باوجود دې هم د ځواب ورکوونکو درېيمه برخه وايي چې هغوی هېڅ ډول برېښنا ته لاس رسۍ نلري چې دا رقم نظر پخوانيو کلونو ته ډېر تېټ ده. په داسې حال کې چې د ۲۰۰۶ کال راهيسې د دولت د برېښنا رسونې په برخه کې کوم اساسي زياتوالى نه ليدل کېده خو بياهم د شخصي او يا مشترکو جنراتورونو څخه د استفادې کچه لوړه وه. د ځواب ورکوونکو کم شمېر(۴٪) په خاصه توګه په کليو او باندوکې د لمر(نوري) برېښنا څخه استفاده کوي چې ښکاري کليوته د برېښنا رسونې د ستونزې لپاره يو ارزانه د حل لاره ده په خاصه توګه که چېرې د همدې ډول برېښنا مقدار زيات شي.
بې وزګاري د يوې عمده ستونزې او اندېښنې په توګه هم په ملي او هم په محلي سطحه ادامه لري.ځواب ورکوونکي په خپلو سيموکې د دندو د موجوديت په اړه ډېر کم رضايت لري او رپوټ ورکوي چې هغوی په دې برخه کې د تېرکال راهيسې ډېر لږ پرمختګ او ښه والى ليدلى ده.
با وجود ددې چې په ځينو اړخونو او برخوکې يوشمېر پرمختګونه او ښه والى ليدل کېږي مګر په عمومي توګه عامه چوپړتياوې او مطبوعيت په اساسی توګه د وخت په تېرېدوسره پرمختګ ندی کړی. په واقعيت کې د اساسي خدمتونو لکه روغيتا او تعليم اوتربيېې د موجوديت په اړه د رضايت کچه د ۲۰۰۷ کال څخه را په دې خوا مخ په کمېدو ده چې ښيي د بهبودۍ او پرمختګ لپاره امېدونه او هيلې کمې شوې دي.

د پخوانيو کلونو په څېر اکثره ځواب ورکوونکي وايي چې دوی په خپلو سيموکې د تعليم اوتربيېې او د سړکونو او پلونو د بيارغونې انکشافي پروژو څخه خبر دي. د ځواب ورکوونکو د ملاحظې وړ تناسب د څښلو د اوبو او روغتيا پورې اړوندو پروژو يادونه کوي. افغان حکومت ته د ابتکارونو د په کار اچولو په برخه کې د لومړنۍ اداري په توګه کتل کېږي که څه هم ليدل کېږي چې بهرني دونران(بسپنه ورکوونکي) د تعليم او تربيېې د سکټور، د صنعت د بيارغونې او بريښنا د رسولو په برخه کې مهم رول لوبوي.د امريکې متحده ايالات دهېواد په ټولو سيموکې د عمده بسپنه ورکوونکي په توګه پېژندل شوی ده او ورپسې د جرمني، جاپان او هندوستان هېوادونه قرار لري. که څه هم د يو شمېر ځواب ورکوونکو لخوا د نورو هغو بسپنه ورکوونکو ذکر شوی کوم چې په هماغه سيموکې په فعاليت بوخت دي.

په ۲۰۰۹ کال کې د ملي حکومت د اجراآتو ارزونې د ۲۰۰۸ څخه را په دې خوا مخ په لوړېدو دي.د تېرو کلونو په شان د حکومت اجراآت د تعلیم او تربیې د زمینو د برابرولو، د روغتیایي سیستم او امنیت په اړه مثبت ارزول کېږي مګر د کار او روزګار د فرصتونو د برابرولو، اقتصاد ته د پرمختګ ورکولو او د اداري فساد سره د مبارزې له لحاظه ډېر کم مثبت ارزول کېږي. سږکال د لومړي ځل لپاره د ځواب ورکوونکوڅخه و پوښتل شو چې د حکومت ترټولو سترې لاسته راوړنې او ضعف په ګوته کړي. نتایج ډېر له نژدې څخه د ټولو برخو ارزونو او پرمختګونوته انعکاس ورکوي.وړاندیزکوي چې حکومت د اجراآتو مشاهدې په عمومي توګه د دولت د مشاهداتو سره په ډېره اندازه د توپیرکولو وړ ندي.

د اوسني حکومت تر ټولو عمده ذکرشوې لاسته راوړنې د بیارغونې د سولې او امنیت تامین او د زده کړې د ښه سیستم څخه عبارت دي او ترټولو عمده ذکرشوې ناکامۍ د اداري فساد، د کار او وزګار د فرصتونو نشتوالی، ضعیف اقتصاد او ضعیف حکومت څخه عبارت دي. داسې ظاهرېږي چې ضعیف حکومت په جدي توګه د ضعیف امنیت سره تړاو ولري مګر همداراز د عامه خدمتونو د برابرولو په برخه کې د حکومت د ارزونوسره هم تړاو لري.

د ځواب ورکوونکو اکثریت وایي چې اداري فساد د ژوند په ټولو برخو او د حکومت په ټولو سطحو کې یوه عمده ستونزه ده. د ځواب ورکوونکو هغه شمېر چې اداري فساد په خپل ولایتي حکومت کې د یوې عمده ستونزې په توګه په ګوته کوي د ۲۰۰۶ کال راهیسې ټیټ شوی ده. دهغو ځواب ورکوونکو شمېر چې هر کال یې د اداري فساد د زیاتوالي ریپوت ورکوي، هم کم شوی دی. مګر هغه ځواب ورکوونکي چې په خپل ورځني ژوند او مجاورت کې اداري فساد د یوې عمده ستونزې په توګه په ګوته کوي، دهغوی شمېر په دوامداره توګه په همدې موده کې زیات شوی ده.

په استازی کوونکو اداراتو باندې او سیمه ییزو ستونزوته د هغوی حساب ورکونه باندې د اعتماد او باور کچه نسبتا لوړه ده . د ځواب ورکوونکو اکثریت وایي چې دواړه یعنې پارلمان او د پارلمان استازي د هغوی ستونزو ته رسیدګي کوي او د پارلمان د غړو د اجراآتو څخه رضایت یو ډېر کوچنی پرمختګ په ۲۰۰۹ کال کې نظر ۲۰۰۸ کال ته ښیي.

په محلي سطحه، ځواب ورکوونکي د ولایتي شوراګانو، د ولسوالیو د چارواکو او د ښاروالیو اجراآت مثبت ارزوي. ولایتي شواګانې نظر نورو ملي استازی کوونکو نهادونوته د خلکو د لوړ باور او اعتماد څخه برخوردار دي. مګر په ولایتي شوراګانو باندې باور او اعتماد د ۲۰۰۷ کال راهیسې په دوامداره توګه راټیټېږي. په ۲۰۰۹ کال کې د ښاروالیو د چارواکو څخه د خلکو رضایت زیات ده په داسې حال کې چې د ولایتي شوراګانو او د ولسوالیو د چارواکوڅخه رضایت په خپل حالت ثابته پاتې ده.

په ۲۰۰۹ کال کې د ټولنې د پرمختیا یې شوراګانو خبرتیا(آګاهي) د استازی کوونکو ادارتو په توګه د کلیو په سطحه زیاته شوې ده. برسېره پر دې د ځواب ورکوونکو درې ربعې د خپلو محلي پرمختیایي شوراګانو څخه

راضي دي او دا ادارات د هرډول رسمي حکومتي اداري په توګه د خلکو د لوړ باور او اعتماد څخه برخوردار دي.مګر په ۲۰۰۹ کال کې ځواب ورکوونکي د ټولنې د پرمختیایي شوراګانې د استازی کوونکي رول په اړه د حکومت په ټولو سطحوکې نظر پخواته یو ډېر واضح او روښانه توپیر کوي. قضاوت کېږي چې د ټولنې پرمختیایي شوراګانې ډېر وړتیا لري ترڅو د محلي ګټوڅخه د ولایت په سطحه نظر په ملي سطحه استازیتوب وکړي.
محلي شوراګانې او یا جرګې د غیر حکومتي جوړښتونو په توګه په محلي سطحه وجود لري. ځواب ورکوونکي په خاصه توګه په کليوالو سيموکې محلي شورا ګانو او جرګوته نظر دولتي محکموته د عدالت د تامین او د شړخو د حل کولو لپاره ترجبح ورکوي.دواړه میکانیزمونه د لاس رسۍ له لحاظه مثبت ارزول کېږي مګر دولتي محاکم په واضحه توګه هغو ځواب ورکوونکوته چې په ښارونوکې ژوند کوي او د زده کړې سویه یې لوړه ده، د لاس رسۍ وړ دي. د ۲۰۰۷ کال څخه را پدې خوا د هغو ځواب ورکوونکو شمېر چې د خپلو ستونزو د حلولو لپاره یې محلي شوراګانو او جرګوته مراجعه کړې، زیات شوی ده مګر د هغو ځواب ورکوونکو شمېر چې دولتي محاکموته د خپلو قضيو د حل کولو لپاره مراجعه کوي، کم شوی ده که څه هم د شوراګانو او جرګو څخه د خلکو رضایت مخ په کمېدو ده.په ۲۰۰۹ هغه قضېې چې د رسمي او غیر رسمي میکانیزمونو له لارې حل و فصل شوي دي د هغوی په نتیجوکې نسبت تېروکلونوته ډېر لږ توپیر لیدل کېږي.همداراز با وجود د دې چې په شوراګانو او جرګو باندې نسبت د حکومت رسمي اداراتو(محاکمو)ته اعتماد زیات دی مګر دا اعتماد هم د ۲۰۰۷ کال څخه را په دې خوا مخ په ټیټېدو ده.

په ۲۰۰۹ کال کې زیات شمېر ځواب ورکوونکي آزادي،سوله او ثبات تر ټولو هغو لوړو شخصي ګټو په توګه ګڼي چې هغوی یې نظر پخوا کلونوته د ډیموکراسۍ څخه توقوع او هیله لري. په واقعیت سره هم په ۲۰۰۹ کال کې دهېواد وکړي ډیموکراتیکو ارزښتونوته( حقوق او قانون، د ښځوحقونه، د خلکو حکومت او اسلامي ډیموکراسي) نظر تېروکلونوته ډېر ارزښت ورکوي خوبیاهم هغوی ډېر لږ اعتماد لري چې ګواکې داسې ډیموکراسي به رامنځ ته شي چې په هغه کې به اداري د فساد کچه ټیټه شي او خلک با هوسا او آرامه شي.

هغه ځواب ورکوونکي چې وایي هغوی د ډېموکراسۍ د هغې طریقې څخه چې په افغانستان کې پلي کېږي، رضایت لري،شمېر یې د ۲۰۰۶ کال راهیسې په دې خوا مخ کمېدو دی او د دې سره سره د هغوځواب ورکوونکو په شمېر کې هم کموالی راغلی دی کوم چې وایي ډیموکراسي د حکومت دارۍ تر ټولو غوره شکل دی. د ډېموکراسۍ څخه ناخوښي ښکاري چې د یو ډیموکراتیک سیستم د عدم موجودیت څخه منځ ته راغلې وي چې وې نشو کړی چې د افغانانو توقوعات او هیلې پوره کړي
په ۲۰۰۹ کال کې اساسي ډیموکراتیکو اصولوته لکه د قانون پر وړاندې مساوي حقونو او د ټولو سیمو او قومي ګروپونو مساوي استازېتوب لپاره ذکر شوی ملاتړ په لوړه کچه قرار لري.مګر د مساوي حقونو د اصل

سره موافقت د په وخت په تېرېدو سره مخ په کمېدو دی. د سوله ییزه اپوزوسیون(مخالفت) لپاره ملاتړ زیات دی خو بیاهم دا ملاتړ په دوامداره مخ په کمېدو دی. همداراز په سیاسي تابعیتونو کې د توپیرونو منل د وګړو ترمنځ په ۲۰۰۹ کال کې ترټولو ټیټې کچې ته رسېدلی دی.له بلې خوا څخه د مخالفو ګوندونو لپاره حتی ډېرو ضعیفو ګوندونوته د فعالیت او غونډو د دایرولو لپاره ملاتړ ډېر زیات شوی دی.دا امکان لري چې د انتخاباتو لپاره وي چې په ۲۰۰۹ کال کې ترسره کېږي چې د سیاسي ګوندونو فعالیتونوته بې ډېر شهرت او برتري ورکړ.

په ۲۰۰۹ کال کې د ټاکنو د کال په توګه د ټاکنو په پروسه باندې یو ځل بیا اعتماد وشو. ډېر ځواب ورکوونکي نظر دوه تېرو کلونوته وایي چې هغوی باور لري چې دهغوی رایه ورکونه د هېواد د بهبودۍ او پرمختګ باعث ګرځي.د دې سره سره هغه ځواب ورکوونکي چې وایي هغوی د حکومت په تصمیم نیونو کې کولای شي اغېزه ولري، شمېر بې په دوامداره توګه مخ په زیاتېدو دی خو باوجود د دې هم د هغو ځواب ورکوونکو شمېر چې ویل بې هغوی د حکومت په تصمیم نیونوکې ډېر زیات اغېزه لري، په ۲۰۰۸ کال کې ډېر زیات وو. په شخصي مؤثریت باندې اعتماد او د زده کړې سطحه د ښار په اوسېدونکو کې لوړه ده که څه هم د ښځو او نارینه د درک او احساس ترمنځ په دې اړه چې هغوی وړتیا لري چې د حکومت په تصمیم نیونوکې اغېره ولري،کوم خاص توپیر موجود نه وو.

دا سروې د ۲۰۰۹ کال د جون په میاشت کې ترسره شوه چې ټاکل شوې وه چې د جمهوري ریاست او ولایتي شوراګانو ټاکنې د همدې کال د آګست په میاشت کې ترسره شي.د ټاکنو څخه دوه میاشتې مخکې د ځواب ورکوونکو د پنځو برخو څخه څلور برخې بې د ټاکنو څخه باخبره ول او د درې ربعو څخه زیاتوبې د ټاکنو لپاره خپل نومونه لیکل ول او د رایې ورکولو کارتونه بې ترلاسه کړي ول.د ټاکنو لپاره د نارینه و د نوم لیکنې کچه نظر ښځوته لوړه وه.هغو کسانو چې د ټاکنو د ټاکنو لپاره بې نومونه نه ولیکلي تقریبا درې ربعې بې په دې نه پوهېدل چې خپل نومونه چېرته ثبت کړي.د انتخاباتي پروسیجر په اړه د معلوماتو نشتوالی یو ستر علت د دې دی چې ولې افغانانو ونشو کولای چې د رایې ورکونې لپاره خپل نومونه ثبت کړي او په ټاکنو کې خپلې رایې ورکړي.

هغه رایه ورکوونکي چې خپل نومونه بې ثبت کړي ول او د ټاکنو کارتونه بې اخیستي ول د هغوی تقریبا درې ربعو ویل چې هغوی غواړي چې رایه ورکړي خو باوجود ددې هم د سیمو او جمعیتونو ترمنځ مهم توپیرونه موجود ؤ. ډېر شمېر نارینه و نظر ښځوته ویل چې امکان لري هغوی رایه ورکړي.دا په داسې حال کې چې د ثبت شویو رایه ورکوونکو د پنځو برخو څخه څلور برخوبې نیت لرلو چې مرکزي/هزاره جات، ختیځ، شمال ختیځ او شمال لوېدیځ سیموکې رایه ورکړي.د درې نیم ربعو په شا اوخواکې ځواب ورکوونکو د جنوب لوېدیځ،جنوب ختیځ، لوېدیځ او مرکزي/کابل په سیموکې ویل چې هغوی ممکن رایه ورنکړي. د امنیت په اړه اندېښنې په جنوب ختیځ او جنوب لوېځ سیموکې زیاتې وې. ټولنیز محدودیتونه چې په ټاکنوکې د ښځو ګډون

محدودي په مرکزي/کابل او شمال ختيځ سيموکې ډېر په سترګو کېدل. هغه ځواب ورکوونکي چې وايي علاقه نلري چې په ټاکنوکې خپلې رايې ورکړي، شمېر يې ډېر په چټکه توګه په ۲۰۰۹ کال کې زيات شو او نظر ۲۰۰۴ ته د دوه برابرو څخه زيات ده. د رايې ورکولو نيت يا اراده په قوي توګه د شخصي مؤثريت د احساس سره تړاو لري په دې معنی، که چېرې خلک پوه شي او باور ولري چې د هغوی رايه ورکونه په هېواد کې د پرمختګ باعث کېږي نو امکان لري چې هغوی خپلې رايې استعمال کړي.د رايې ورکونې نيت او قصد همداراز په قوي توګه د ټاکنو د پروسې تماميت سره هم تړاو لري.

د ځواب ورکوونکو اکثريت ويل چې راتلونکې ټاکنې به آزاده او شفافه. هغو خلکو چې برخلاف د دې يې نظر درلود هغوی په ټاکنوکې يوڅه جدي ستونزې لکه د رايو په شمارلو کې درغلي او د رايو خرڅول يې په ګوته کول.يوائې يوډېر کم شمېر ځواب ورکوونکو د رايه ورکوونکو يا د ګوندونو د فعالينو پر وړاندې د وېرې ذکر کاوه. د انتخاباتو د آزادۍ او شفافيت په اړه په جنوب لوېديځ، جنوب ختيځ، لوېديځ او مرکزي/کابل سيموکې شک او ترديدونه موجود ؤ. د انتخاباتي پروسې په اړه د ځېنو شکونو او ترديدونو باوجود، په ۲۰۰۹ کال کې انتخاباتو پورې اړوند نهادونو باندې لکه د انتخاباتو مستقل کمېسيون او سياسي ګوندونو باندې چې د ۲۰۰۶ راهيسې د خلکو اعتماد يې لاس ته راوړې دی، د باور کچه لوړه ليدل کېږي.

د بيان د آزادۍ په اړه نظرونه متفاوت دي. فزيکي امنيت او همداراز د آزاديو قانوني تضمين بياهم د هېواد د اوسېدونکو لپاره د بيان د آزادۍ د تامين په برخه کې کليدي عناصر دي. هغه ځواب ورکوونکي چې وايي دا د منلو وړ نده چې څوک دې د حکومت په اړه منفي خبرې وکړي، شمېر يې مخ په کمېدو دی چې دا کار ښيي چې په افغانستان کې د بيان د آزادۍ پر وړاندې خنډونه د حکومت لخوا څخه ندي بلکه په محيط او ټولنه کې د نورو عواملو له کبله دي.

د حکومت په تصميم نيونوکې او د محلي ستونزو په حلولوکې د مذهبي مشرانو سره د مشورې په اړه د ملاتړ کچه لوړه ده چې د دې ملاتړ کچه د هېواد په ختيځ کې ۸۲٪ او جنوب لوېديځ کې ۷۲٪ ده.

د ټېرو کلونو په څېر تعليم او تربيه او بې سوادي(۴۹٪) هغه عمده ستونزې دي چې ښځې په افغانستان کې ورسره مخامخ دي.که څه هم په عين وخت کې د هغو ځواب ورکوونکو په شمېر کې زياتوالی راغلی چې د ښځو لپاره د دندو نشتوالی د يوې مهمې موضوع په توګه تشخيصوي.
د جنډر د مساوات،ښځو لپاره د کار او وزګار مساوي فرصتونو، په ټاکنوکې د ښځو د رايې ورکولو حق لپاره ملاتړ په لوړه کچه کې قرار لري.مګر د هغو ځواب ورکوونکو شمېر چې وايي ښځې حق لري چې د کورڅخه بهر کار وکړي، په حاشيوي توګه کال په کال کمېږي چې په ۲۰۰۹ کال شمېر يې ډېر زيات کم شوی ده. د

انتخاباتو په پروسه کې د ښځو د ګډون لپاره د لوړ ملاتړ باوجود، يوائې يو ووړ اقليت فکر کوي چې ښځې بايد په خپله فکر وکړي چې څه ډول رايه ورکړي. د هېواد په جنوب لوېديځ او جنوب ختيځ کې ډېر شمېر ځواب ورکوونکي وايي چې د سړيو لپاره دا د منلو وړ ده چې د ښځو پرځای رايه ورکړي. د تېرو کلونو په څېر د جنډر د مساوات لپاره د ملاتړ کچه د ښځو، ځوانو طبقو او د ښار اوسېدونکو ترمنځ، لوړه ده. د زده کړې د سوېې سره هم د ملاتړ کچه لوړه ده.

په ۲۰۰۹ کال کې نظر تېرو کلونوته په حکومتي نهادونو کې د ښځو د استازېتوب لپاره په ټولو سطحوکې لږ ملاتړ ليدل کېږي.ځواب ورکوونکي ذکر کوي چې د ولسوالی په پراختيايي شوراکې ډېر لږ اپوزوسيون څخه د يوې ښځې لخوا استازېتوب کېږي. ښځې نظر نارينه و ته د مساوي استازېتوب په اړه قوي باور او عقيده لري.

د افغاني کورنيو لپاره په خاصه توګه بيا په کليو کې راډيو ترټولو زيات د لاس رسی وړ رسنی په توګه باقي پاتې ده. که څه هم د ۲۰۰۷ کال راهيسې د راډيو درلودونکو او اورېدونکو په شمېر کې يو ثابت کموالی راغلی ده.د ټلوېزيون درلودونکي زيات شوی دي مګر داکار يوائې ښاري سيمو پورې محدود پاتې دی.
برسېره پردې په ۲۰۰۹ کال کې د موبايل ټيلفون درلودونکو په شمېر کې نظر تېرو کلونوته يو مهم زياتوالی ليدل کېږي. دا په دې معنی ده چې د لومړي ځل لپاره د ځواب ورکوونکو اکثريت اوس دې تکنالوژۍ ته لاس رسی لري

د غير رسمي شبکوڅخه د خبرونو او معلوماتو د منبع په توګه استفاده په لوړه کچه کې قرار لري. د ځواب ورکوونکو تقريبا نيمايی شمېر په ټولنه کې د غونډو او يا جومات کې د راټولېدو څخه په دې منظور استفاده کوي. په کليوالو سيمو کې غير رسمي شبکوته (لکه دوستانو، کورنۍ او ګاونډيو) د معلوماتو د اساسي منبع په توګه مراجعه کول په خاصه توګه بيا په ښځو او هغو ځواب ورکوونکو کې چې د سواد کچه يې ټيټه ده ډېر رايج ده.مګر په دې وروستيو کلونوکې د هغو ځواب ورکوونکو شمېر کم شوی ده کوم چې وايي هغوی ترجيح ورکوي چې د محلي پېښو په اړه معلومات د شخصي اړيکو او پېژندګلويو په اساس ترلاسه کړي. له بلې خوا ۲۰۰۹ کال ښيي چې د هغو ځواب ورکوونکو شمېر چې ترجېح ورکوي معلومات د بانفوذه اشخاصوڅخه لکه د کلي ملکانو، د ټولنې رهبرانو يا ملايانوڅخه ترلاسه کړي،ډېر زيات شوی دی. چې داکار دې ته اشاره کوي چې د معلوماتو د خپرولو فرهنګي چاينلونه لا تراوسه هم په افغانستان کې ډېر مهم باقي پاتې دي.